**د افغانستان اسلامي امـــارت**

**د کانـونـو او پټرولیـم وزارت**

**د پالیسۍ او برنامو معینیت**

**د څېړنې او پالیسیو د پراختیا ریاست**

# د کان کېندنې سکټـــور پانګولاو لاربښود او بانکي معلومات



**سال ۱۴۰۱ هـ ش**

## نوملړ

سریزه ... 3
د پانګي اچوني په سکتور کي دخیل کلیدي اداري ... 4
د کانونو او پټرولیم وزارت ... 4
د مالیي وزارت ... 4
د صنایعو او سوداګری وزارت ... 4
د پانګوني جواز ... 4
د چاپیریال ساتني ملي اداره ... 5
د کانونو قانون ۱۳۹۷ ... 5
د چاپیریال ساتني په اړه د کانونو د قانون احکام او د هغي سره سم د چاپیریال ساتني ملي اداري مسوولیتونه ... 5
د ژوند چاپیریال ضمانت ... 5
ځلور پنځوسمه ماده: ... 5
د ژوند چاپیریال د قانون رعایت ... 6
دري شپیتمه ماده: ... 6
د ژوند چاپیریال د مدیریت پلان ... 6
ځلور شپیتمه ماده: ... 6
په شرطونو برابروالی ... 7
اوولسمه ماده: ... 7
(1) هغه حقیقی شخص چې: ... 7
(2) هغه حکمي شخص چې: ... 7
(3) هغه خصوصی شرکتونه چې: ... 7
(4) هغه ثبت شوي شرکتونه چې: ... 8
د پانګه اچوونکي مسؤلیتونه ... 9
د جواز لرونکو حقوق ... 9
جوازونه ... 9
کوچنی مقیاس د کان کیندني جواز ... 10
اکتشافي جواز ... 11
ګتي اخستني جواز ... 12
په کوچني مقیاس د کان کیندني جواز لپاره غوښتنلیک ... 13

## سریزه

د هغو سروې ګانو له مخې چې د شوروي څمکپیژندونکو او د امریکا د جیولوي سروې ادارې له خوا تر سره شوي، ښايي چې افغانســتان په پراخه کچه طبیعي زیرمې (جامد کانونه او هایدرو کاربنونه) لري. د طبیعي زیرمو زیاتوالي د هیواد د اقتصـادي ودې لپاره بې سـاري فرصـتونه برابروي. له دې فرصـتونو څخه د ګټې اخیسـتنې او د هېواد د اقتصـادي ودې لپاره، په دې برخه کې د خصوصي سکټور (کورني او بهرني کان کیندنې شرکتونو) را جلبول اړین دي. په دې اساس، د کورنیو او بهرنیو پانګوالو هڅول د حکومت او د کانونو وزارت له موخو څخه دي او د کانونو په برخه کې د هر ډول قانوني پانګونې هرکلی کوي.

د یادونې وړ ده، چې دغه معلوماتي بانک او د پانګوالو لارښـــود یوازې د پانګوالو د حقونو او مکلفیتونو د پېژندنې لپاره چمتو شـوی او په هېڅ صـورت د اړوندو بنســټونو له خوا د چمتو شـویو قوانینو، مقرراتو او کړنلارو بدیل نه دی. د دې حقیقت له امله چې وزارتونه تل هڅه کوي د خپلو کړنو د ښـــه والي لپاره اړوند قوانین، مقررات او طرزالعملونه تعدیل کړي، د جیولوجیکي سروې معینیت هر کال د خپل کاري پلان له مخې نوې ســیمې سروې کوي او همدارنګه د کانونو وزارت د خصوصي سکتور سره نوی قراردادونه کوي، د فعالو قراردادونو شمیر هره ورځ مخ په ډیریدو دی، نو پدې لارښود کې موجود معلومات د لیکلو په وخت کې سم دي، مګر د وخت په تیریدو سره بدلون مومی.

پانګوال کولی شي د افغانســتان د کانونو د سـکټور په اړه د نورو معلوماتو او لارښــوونو د تر لاســه کولو لپاره د کانونو او پټرولیم وزارت د ------------------------------------------رياست سره په----------------------- شمیرې یا -------------- ---------- ----- بریښنالیک او د هایدرو کاربن سکټور په اړه د کانونو او پټرولیم وزارت د --------------------------- ریاست سره په --- --------------- شــمیرې یا -------------------------------- ایمیل ادرس سره اړیکه ونیســئ. د کانونو او پټرولیم وزارت د دې لارښود د ښه والي لپاره ستاسو د سالمو نظریاتو څخه مننه او هرکلي کوي.

## د پانگې اچونې په سکتور کې دخیل کلیدي ادارې

### د کانونو او پټرولیم وزارت

د کانونو او پټرولیم وزارت د کانونو قانون، د کان کیندنې د مقررې او د جوازونو/قراردادونو د شرایطو د پلي کولو یوازېنی او با صلاحیته مرجع ده، او همدارنگه د کانونو او پټرولیم وزارت په هیواد کې د کانونو او پټرولیم سکتور (تیلو او گاز) د چارو د تنظیم لپاره د پالیسیو او مقرراتو د طرح کولو او پلي کولو مسولیت پر غاړه لري.

### د ماليې وزارت

د ماليې وزارت د نورو فعالیتونو تر څنگ د هېواد د عوایدو او گمرکونو د چارو د تنظیم دنده هم پر غاړه لري. پر عوایدو د مالیاتو د قانون له مخې د دې وزارت د عوایدو معینیت د مالیاتو د راټولولو او د افغانستان د گمرکونو معینیت د پولې په اوږدو کې د سوداگرۍ اداره/مدیریت او د گمرکي عوارضو د ټولولو مسوولیت پر غاړه لري.

د کانونو په سکتور کې پانگه اچوونکي د خپلو مالیاتو د تادیاتو، د گمرکي معافیت ترلاسه کولو، د گمرکي محصول د ورکړې لپاره د ماليې وزارت د عوایدو او گمرکونو معینیت او د گمرکونو ریاست ته مراجعه کوي.

### د صنایعو او سوداگرۍ وزارت

د صنایعو او سوداگرۍ وزارت په افغانستان کې د خصوصي او دولتي تصدیو د سوداگریزو فعالیتونو په اړه د پالیسیو، قوانینو او مقرراتو د طرحې او پلي کولو مسوولیت لري. د سوداگرۍ او صنایعو وزارت د ځینو قوانینو او پالیسیو لکه د خصوصي سکټور د پانگونې قانون په تصويبولو سره د خصوصي، گډو او عامه تصدیو په ځانگړې توگه د کانونو او پټرولیم سکتور پانگوالو ته د سوداگریزو راکړو ورکړو د ترسره کولو زمینه برابره کړې ده.

د افغانستان د استخراجي صنایعو په سکټور کې ټیوال پانگوال اړ دي چې د پانگونې د ثبت او نورو اړوندو چارو په اړه د صنعت او سوداگرۍ وزارت پالیسي او مقررات تعقیب کړي.

### د پانگونې جواز

د کانونو د قانون د حکمونو له مخې، د پانگونې جواز هغه سند دی چې د سوداگرۍ او صنایعو وزارت د مرکزي ثبت او فکري مالکیت د دفتر له خوا صادرېږي چې په کې ویل شوي، یو شخص کولای شي د کانونو په صنعت پورې اړوند فعالیتونه ترسره کړي. د صنایعو او سوداگرۍ وزارت له پانگوالو سره د پانگونې د جوازونو په صادرولو کې همکاري کوي، چې د کانونو د جواز/قرارداد د ترلاسه کولو لپاره یو له مخکینیو شرطونو څخه دی.

## د چاپیریال ساتنې ملي اداره

د چاپېریال ساتنې ملي اداره یوه خپلواکه اداره ده چې د چاپېریال ساتنې او بیارغونې چارو د همغږۍ او څارنې او په ټول هېواد کې د چاپېریال ساتنې د قانون او د چاپېریال ساتنې مقرراتو د حکمونو د پلي کولو مسوولیت لري، ولایتي دفترونه یې د هېواد په ټولو ولایتونو کې فعال دي.

د چاپیریال ســاتنې ملي اداره واک لري چې د افرادو او شرکتونو لخوا د چاپیریال د ککړتیا او ویجاړولو مخه ونیسي. د دې موخې د ترلاســه کولو لپاره، دا اداره کولی شي د چاپیریال ســاتنې قانون له حکمونو سره ســم د هغو فعالیتونو د مدیریت لپاره چې په چاپیریال ناوړه اغیزه کوي ، د چاپیریال ساتنې، د ککړتیا کنټرول، د کثافاتو مدیریت او د خطرناکو فاضــله موادو مدیریت اجازه لیکونه صــادر کړي او د نوموړي اجازه لیکونو د درلودونکو له فعالیتونو څخه څارنه او پلټنه وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې په اجازه لیکونو او د چاپیریال ساتنې قانون کې درج شوي شرایط پلی کیږي.

## د کانونو قانون ۱۳۹۷

د کانونو قانون او د کان کیندنې مقرره پر کانونو د دولت مالکیت او کنترول تثبیتوی، له کانونو څخه د استفادې او ساتنې څرنگوالي تنظیموي او د کانونو په سکتور کې د عامه، خصوصي او گډې پانگونې د هڅولو لپاره ستراتیژي چمتو کوی او نور اړونده عملیات او فعالیتونه کنټرولوي.

په نوموړي اسنادو کې لاندې مسائیل په څرگند ډول درج شوي: د کانونو د ذخیرې مالکیت، د کانونو تنظیمونکي ادارې، د کانونو د حقوقو ډولونه، د کانونو د حقوقو ترلاسه کولو لپاره وړ اشخاص، د داوطلبۍ پروسه، د کانونو قرارداد، د روڼتیا رامنځته کول، د فساد له منځه وړل، د پانگونې هڅول، روغتیا او خوندیتوب، چاپیریال ساتنې اړوند مسائیل، د کانونو د ساحو د پراختیا او د استخراجي صنایعو په برخه کې د شفافیت د نوښت د معیارونو د تعقیب په برخو کې د کانونو د حقوقو د خاوندانو مسوولیتونه او نور.

## د چاپیریال ساتنې په اړه د کانونو د قانون احکام او د هغې سره سم د چاپیریال ساتنې ملي ادارې مسوولیتونه

### د ژوند چاپیریال ضمانت

#### څلور پنځوسمه ماده:

1) د اکتشافي جواز او د گټې اخستنې جواز لپاره د ژوند چاپیریال ضمانت الزامي دی. دغه ضمانت کیدای شی، په کوچنۍ مقیاس د کان کیندنې جواز لپاره الزامی شی.

2) د ژوند چاپیریال ضمانت د جواز په ساحه کې د ځمکې کیندنې له پیلیدو څخه مخکې وړاندې کیږي.

3) د ژوند چاپیریال د ضمانت دولت او اندازه د وزارت په واسطه د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره مشخصیږي:

• له اړوندو مقرراتو سره سم.

• د چاپیریال ساتنې د مدیریت پلان په پام کې نیولو سره.

• د چاپیریال ساتنې له ملي ادارې سره په مشوره کې.

## د ژوند چاپیریال د قانون رعایت

### درې شپیتمه ماده:

1) جواز لرونکی مکلف دی، چې د ژوند چاپیریال د قانون حکمونه رعایت کړي.

2) جواز لرونکی مکلف دی، چې د امکان تر حده پورې د ژوند په چاپیریال باندې له منرالي فعالیتونو څخه د راپیدا شـوو اغیزو مخه ونیسيـ ، هغه کمی کړي او واردې شــوې اغیزې ترمیمې کړي. په دغو اقداماتو کې د هغو ځمکو احیا شاملیږي چې د جواز په ساحه کې واقع شوې دي.

## د ژوند چاپیریال د مدیریت پلان

### څلور شپیتمه ماده:

1) د ژوند چاپیریال ساتنې ملي اداره مکلفه ده چې لاندې چارې وارزوي:

• د مقررو له درج شوو شرطونو سره د ژوند چاپیریال د مدیریت د وړاندیزي پلان مطابقت.

• د دې بررسي چې د ژوند چاپیریال د مدیریت د وړاندیزي پلان اجرا د دې قانون(کانونو قانون) د درې شــپیتمې مادې د ۲ فقرې له حکم سره سم د جواز لرونکی مکلفیت لرې کوي.

2) د ژوند چاپیریال ساتنې ملي اداره کولی شي، د ژوند چاپیریال د مدیریت پلان تائید، د هغه د ا صلاح غو ښتنه وکړی یا د ژوندانه د چاپیریال د مدیریت د پلان په تائید شرطونه عملي کړي.

3) که چېرې د ژوند د چاپیریال د اغیزو او د ژوند د چاپیریال د اغیزو د کمښت د هر اړخیز پلان ارزونه الزامي بلل شوې وي، د ژوند د چاپیریال د مدیریت پلان یاد مکلفیت لری کوی.

دا باید په یاد ولرئ چې د کان کیندنې شرکتونه باید د کیندنې له پیلولو څخه مخکې د چاپیریال ساتنې ملي ادارې څخه د چاپیریال ساتنې جواز ترلاسه کړي.

## په شرطونو برابروالی

### اوولسمه ماده:

(۱) لاندې اشخاص د کانونو د قانون د 41 مادې له حکم سره سم، د داوطلبی په بهیر کې د ګډون په شرطونو برابر نه دي او نشي کولی، د کان کیندنې قرارداد یا جواز ترلاسه کړي.

(1) هغه حقیقی شخص چې:

- ۱۸ کلنۍ سن یې بشپړ کړی نه وی ته نه وي.
- په افغانستان کې استوګنه و نه لری.
- په افلاس محکوم شوی وی.
- د پانګونې جواز و نه لري.
- د دې قانون د حکمونو په نقض محکوم شـــوی وي یا جواز یې د تېرو دریبیو کلونو په ترڅ کې د دې قانون د حکمونو د نه رعایتولو له امله لغوه شوی وي.
- د تېرو لسو کلونو په بهیر کې، د رشوت یا د اداري فساد په جرم محکوم شوی وی.
- نفود لرونکی سیاسی شخص وی.
- د نفوذ لرونکی سیاسي شخص استازی چې د تولیت هوکړه لیک سره سم، د استازیتوب په ګډون په رسمي یا غیر رسمي ډول د هغه استازیتوب وکړی.

(2) هغه حکمي شخص چې:

- د افلاس له امله د تصفیې په حالت کې وی یا منحل شوی.
- د پانګونې جواز و نه لري.
- د دې قانون د حکمونو په نقض محکوم شوی وي یا جواز یې د تېرو دریبیو کلونو په ترڅ کې د دې قانون د حکمونو د نه رعایتتولو په دلیل لغوه شوی وي.
- د تېرو لسو کلونو په ترڅ کې، د رشوت یا د اداري فساد په جرم محکوم شوی وی.

(3) هغه خصوصی شرکتونه چې:

- مالک یې د دې قانون د حکمونو د نقض په دلیل محکوم شوی وي یا د هغه جواز د تېرو دریو کلونو په ترڅ کې د دې قانون د حکمونو د نه رعایتولو په دلیل لغو شوی وي.
- مالک یې د تیرو لسو کلونو په ترڅ کې د رشوت یا اداري فساد په اړوندو جرمومونو محکوم شوی وی.
- مالک یې نفوذ لرونکي سیاسي شخص وی.

(4) هغه ثبت شوي شرکتونه چې:

- معتبر مالک يې د دې قانون د حکمونو د نقض په دليل محکوم شوی وی يا د هغه جواز د تېرو دريو کلونو په ترڅ کې کې د دې قانون د حکمونو د نه رعايتولو له امله لغو شوی دی.
- معتبر مالک يې د تېرو لسو کلونو په ترڅ کې د رشوت يا اداري فساد په اړوندو جرمونو محکوم شوی.
- معتبر مالک نفوذ لرونکي سياسي شخص وی.

~~(۲) لاندې کسان نشي کولی په کوچني مقياس د کان کيندنې جواز ترلاسه کړي:~~

1- هغه حقيقی اشخاص چې د افغانستان تابعيت نه لري.

2. هغه حکمي اشخاص چې د افغانستان د قانون سره سم ثبت شوي نه وي.

3. هغه حکمی اشخاص چې د هغو اکثريت، د افغانستان تابعيت و نه لری يا په افغانستان کې ثبت شوی نه وي.

(۳) که چيري د داوطلبۍ په پروســـه کې ګډون کوونکی چې د دې قانون(کانونو قانون) د ۴۱ مادې له حکم سره ســـم ترسره شـــوی دی، د کان کيندنې قرارداد لرونکی يا جواز لرونکی د دې مادې په (۱ يا ۲) فقرو کې درج شـــوی لازم شرطونه له لاســـه ورکړی، هغه مکلف دي په ډير لنډ ممکن وخت کې د موضـــوع په هکله په ليکلي ډول وزارت ته خبر ورکړی، وزارت په دې صورت کې کولی شی:

۱- د ياد شخص د داوطلبۍ وړانديز د دې قانون(کانونو قانون) د ۴۳ مادې د ۳ فقرې له حکم سره سم، رد کړی.

۲- د کان کيندنې قرارداد د دې قانون(کانونو قانون د ۴۰ مادې د ۸ فقرې له حکم سره سم، فسخ کړی.

۳- جواز د دې قانون(کانونو قانون) د ٦۰ مادې د ۱ فقرې له حکم سره سم، لغو کړی.

(۴) هغه شـــخص چې د يو خصـــوصي شرکت مالک کيږي چې د هغه شرکت د کان کيندنې د قرارداد لرونکی، جواز لرونکی يا انتقالي جواز لرونکی دی، مکلف دی موضوع په هکله د ۳۰ ورځو په بهير کې وزارت ته اطلاع ورکړی.

(۵) دغه شخص د ثبت شوي شرکت معتبر مالک وي چې د کان کيندنې قرارداد لرونکی، د جواز لرونکی يا انتقالي جواز لرونکی دی، مکلف دی موضوع په هکله د ۳۰ ورځو په ترڅ کې وزارت ته اطلاع ورکړی.

(٦) که چيری حکمي شخص د دې قانون د ۴۱ مادې له حکم سره سم، چې د داوطلبۍ پروسه جوړيږي، ګډون وکړی خو د داوطلبۍ د پروسې په وخت کې په افغانســتان کې سـوداګريز دفتر يا مرکز و نه لری، مکلف دی د کان کيندنې د

قرارداد له اجرا مخکې د دې قانون د ۴٦ مادې ۱ فقرې له حکم سره سم په افغانستان کې خپل سواگریز مرکز یا دفتر را منځته کړي.

## د پانګه اچوونکي مسؤلیتونه

ټول کورني او بهرني پانګوال اړ دي چې د خصوصي پانګونې قانون او د افغانستان د نورو نافذه قوانینو سره سم عمل وکړي.

## د جواز لرونکو حقوق

| د اکتشاف جواز | د ګټې اخستنې جواز | د کوچنۍ کچې جواز |
|---|---|---|
| • په جواز کې د مشخص شوي منرالونو اکتشاف.<br>• ځمکې، د اکتشاف لپاره اړینو وسایلو او کارکوونکو ته لاس رسی.<br>• د جواز له ساحې څخه د معدني نمونو لیږد.<br>• د اکتشاف لپاره د زیربناوو جوړول او کارول.<br>• د اوبو د قانون له حکمونو پر بنسټ د سطحې او ځمکې لاندې اوبو استخراج او کارول.<br>• او نور ... | • د کان کیندنې وړاندیز سره سم په جواز کې د مشخص شوي منرالونو استخراج.<br>• ځمکې، کارکوونکو او تجهیزاتو ته لاس رسی.<br>• د اکتشاف لپاره د جواز له ساحې څخه نمونې لیږدول.<br>• د زیربناوو جوړول او کارول.<br>• د اوبو کارول.<br>• د منرالونو ذخیره کول.<br>• د محصولاتو لیږد او د هغې پلور.<br>• نور... | • په کوچني مقیاس کاري برنامې پر اساس په جواز کې د مشخص شوي کوچني مقیاس منرالونو اکتشاف او استخراج.<br>• ځمکې، کارکوونکو او تجهیزاتو ته لاس رسی.<br>• د تحلیل لپاره نمونې لیږدول.<br>• د زیربنا جوړول او کارول.<br>• د اوبو کارول.<br>• د منرالونو ذخیره کول.<br>• د محصولاتو لیږد او پلور.<br>• او نور ... |

## جوازونه

د دې لارښود په دې برخه کې د افغانستان په استخراجي صنایعو کې د لیوالو پانګوالو د اړتیا وړ د جوازونو او خدماتو د ورکړې کړنلار په لنډه توګه تشریح کیږي:

## کوچنۍ مقیاس د کان کیندنې جواز

| د جواز نوم | د کوچنۍ مقیاس کان کیندنې جواز. |
|---|---|
| صادرونکې اداره | د کانونو او پطرولیم وزارت / د کانونو د تنظیم عمومي ریاست. |
| کارول / توضیحات | د کوچني مقیاس د کان کیندنې جواز هغه جواز دی چې د دې قانون د نهه ویشـتمې مادې له حکم سره سم ورکول کیږي او د هغه پر بنسټ د دې قانون له حکمونو سره سم د مسلکي کان کیندنې د فعالیتونو په ګډون په کوچني مقیاس د کان کیندنې په پروژو کې اکتشاف او ګټه اخیستنه ترسره کیږي. |
| اړونده قوانین او مقررات | د کانونو قانون 1397 او د کان کیندنې مقرره 1398 |
| د مســولې مرجعې پته او د اړیکې شمیره | د کانونو او پټرولیم وزارت عبدالحق څلور لارې کابل افغانستان +93202304455 |
| د جواز د اعتبار موده | د کوچني مقیاس د کان کیندنې جواز موده پنځه کاله وي. |
| د جواز فیس | د ســاختماني موادو د کوچني مقیاس کان کیندنې جواز فیس 15,000 افغانۍ یا 37,500 افغانۍ د نورو منرالونو لپاره. |
| څارونکې اداره | د کانونو او پټرولیم وزارت د کانونو د پلټنې ریاست. |
| د تمدید وړتیا | د کانونو وزارت د تائید په صورت کې دا جواز د نورو پنځو کالونو لپاره تمدید کیدای شي. |
| د تمدیدولو کړنلاره | د جواز لرونکی مکلف دی، د جواز د مودې د تمدید لپاره د غوښـتنې په صـورت کې، د تمدید غوښـتنه د جواز د نیټې له تېریدو څخه نوی (۹۰) ورځې مخکې وزارت ته وسپاري.<br>وزارت په لاندې حالاتو کې د جواز موده تمدیدوي:<br>1. په هغه صورت کې چې جواز لرونکی د دې قانون درج شوي حکمونه رعایت کړی وي.<br>2. د اکتشـــافي یا ګټې اخیســـتنې د جواز په اړوند، جواز لرونکي د کان کیندنې د قرارداد درج شـــوي مکلفیتونه رعایت کړی وي.<br>3. د اکتشافي جواز په صورت کې، وزارت د کانونو قانون د دوه دیرشمې مادې له حکم سره سم، د جواز د ساحې له ۵۰٪ څخه انصراف تصویب کړی وي.<br>که چیرې جواز لرونکی د جواز د مودې د تمدید لپاره غوښتنلیک سپارلی او جواز د مقتضی کیدو په حال کې وی، جواز تر هغه وخته پورې د هغه د تمدید د غوښتنې تائیدي یا رد مشخص شوي نه وي د اعتبار وړ ګڼل کیږي. |
| د تمدیدولو فیس | د کوچني مقیاس د کان کیندنې جواز د تمدیدولو فیس 7500 افغانۍ دی. |

اکتشافي جواز

| د جواز نوم | اکتشافی جواز |
|---|---|
| صادرونکي اداره | د کانونو او پټرولیم وزارت د لویو کانونو ریاست. |
| کارول / توضیحات | اکتشـــافي جواز هغه جواز دی چې د دې قانون د ۲۸ مادې د (۱ او ۲) فقرو له حکمونو سره سم ورکول کیږي او د هغه پر بنسټ د دې قانون له حکمونو سره سم په ستر مقیاس د کان کیندنې په پروژه کې اکتشاف ترسره کېږي. |
| اړونده قوانین او مقررات | د کانونو قانون 1397 او د کان کیندنې مقرره 1398 |
| د مســـولې مرجعې پتــه او د اړیکې شمیره | د کانونو او پټرولیم وزارت عبدالحق څلور لارې کابل افغانستان +93202304455 |
| د جواز د اعتبار موده | اکتشافي جواز د لومړي ځل لپاره د دریو کلونو لپاره ورکول کیږی. |
| د جواز فیس | د داوطلبی فیس 300,000 افغانۍ |
| څارونکی اداره | د کانونو او پټرولیم وزارت د کانونو د پلټنې ریاست. |
| د تمدید ورتیا | دا جواز د کانونو وزارت د تائید په صورت کې د دوو درې کلنو دورو لپاره غځول کیږي. |
| د تمدیدولو کړنلاره | د جواز لرونکی مکلف دی، د جواز د مودې د تمدید لپاره د غوښتنې په صورت کې، د تمدید غوښتنه د جواز د نیټې له تېریدو څخه نوی (۹۰) ورځې مخکې وزارت ته وسپاري.<br>وزارت په لاندې حالاتو کې د جواز موده تمدیدوي:<br>1. په هغه صورت کې چې جواز لرونکی د دې قانون درج شوي حکمونه رعایت کړی وي.<br>2. د اکتشـافي یا ګټې اخیســتنې د جواز په اړوند، جواز لرونکي د کان کیندنې د قرارداد درج شـوي مکلفیتونه رعایت کړی وی.<br>3. د اکتشافي جواز په صورت کې، وزارت د کانونو قانون د دوه دیرشمې مادې له حکم سره سم، د جواز د ساحې له ۵۰٪ څخه انصراف تصویب کړی وي.<br>که چیرې جواز لرونکی د جواز د مودې د تمدید لپاره غوښتنلیک سپارلی او جواز د مقتضی کیدو په حال کې وی، جواز تر هغه وخته پورې د هغه د تمدید د غوښـتنې تائیدي یا رد مشـخص شـوي نه وي د اعتبار وړ ګڼل کیږي. |
| د تمدیدولو فیس | 24,750 افغانۍ |

## ګټې اخستنې جواز


| د جواز نوم | د ګټې اخستنې جواز |
|---|---|
| صادرونکې اداره | د کانونو او پټرولیم وزارت د لویو کانونو ریاست. |
| کارول / توضیحات | د ګټې اخســـتنې جواز هغه جواز دی چې د دې قانون د ۲۸ مادې د (۳ او ۴) فقرو یا (۹) فقرو له حکمونو سره سم ورکول کیږي او د هغه پر بنسټ د دې قانون له حکمونو سره سم په ستر مقیاس د کان کیندنې په پروژو کې ګټه اخستنه ترسره کیږي. |
| اړونده قوانین او مقررات | د کانونو قانون 1397 او د کان کیندنې مقرره 1398 |
| د مســـولې مرجعې پتــه او د اړیکې شمیره | د کانونو او پټرولیم وزارت عبدالحق څلور لارې کابل افغانستان +93202304455 |
| د جواز د اعتبار موده | د استخراج جواز د دېرش (30) کلونو لپاره ورکول کیږي. |
| د جواز فیس | د داوطلبی فیس 300,000 افغانی |
| څارونکی اداره | د کانونو او پټرولیم وزارت د کانونو د پلټنې ریاست. |
| د تمدید وړتیا | د کانونو وزارت د تائید په صـــورت کې دا جواز یو ځل د پنځلســـو کلونو لپاره تمدید کیدای شي. |
| د تمدیدولو کړنلاره | د جواز لرونکی مکلف دی، د جواز د مودې د تمدید لپاره د غوښتنې په صورت کې، د تمدید غوښتنه د جواز د نیټې له تېریدو څخه نوی (۹۰) ورځې مخکې وزارت ته وسپاري.<br>وزارت په لاندې حالاتو کې د جواز موده تمدیدوي:<br>1. په هغه صورت کې چې جواز لرونکی د دې قانون درج شوي حکمونه رعایت کړی وي.<br>2. د اکتشـافي یا ګټې اخیسـتنې د جواز په اړوند، جواز لرونکي د کان کیندنې د قرارداد درج شـوي مکلفیتونه رعایت کړی وی.<br>3. د اکتشافي جواز په صورت کې، وزارت د کانونو قانون د دوه دیرشمې مادې له حکم سره سم، د جواز د ساحې له ۵۰٪ څخه انصراف تصویب کړی وي.<br>که چیرې جواز لرونکی د جواز د مودې د تمدید لپاره غوښتنلیک سپارلی او جواز د مقتضی کیدو په حال کې وی، جواز تر هغه وخته پورې د هغه د تمدید د غوښـتنې تائیدي یا رد مشـخص شـوي نه وي د اعتبار وړ ګڼل کیږي. |
| د تمدیدولو فیس | د استخراج جواز لپاره 24,750 افغانی |


## په کوچني مقیاس د کان کیندنې جواز لپاره غوښتنلیک

په کوچني مقیاس د کان کیندنې جواز لپاره غوښتنلیک د لاندې معلوماتو لرونکی ودی:

1. د غوښتونکي نوم او پته.
2. په هغه صورت کې چې غوښتونکی حکمی شخص وي، د غوښتونکي د ذینفع مالک یادونه.
3. د جواز ساحه او د هغې د پلان تشریح.
4. هغه منرالونه چې د هغو لپاره د جواز غوښتنه کیږي.
5. د توانمنندی اظهار لیک.
6. په کوچني مقیاس کاري برنامه.
7. د چاپیریال ساتنی د مدیریت پلان.
8. نور معلومات چې په مقرره کې مشخص شوي.

### د کوچني مقیاس کان کیندنې د جوازونو ورکولو پروسه




د لوي مقياس کانونو د قرارداد پروسه
د پروژې اعلان
د اسنادو ارزونه
د بریالیو او ناکامو داوطلبانو پېژندنه
RFP صادرول
د آفر کشایي څخه مخکې مذاکرې
د کټوونکي او ریزرف داوطلب پېژندنه
کټوونکي داوطلب سره مذاکره
له کټوونکي داوطلب سره د قرارداد مسوده برابرول
د وزیرانو شورا او عالی اقتصادی شورا منظوري
د تړون عقد